قاسم باز

۱۱ دسمبر ۲۰۲۳

## د میر اکبر خیبر د قتل په ارتباط د سیاه سنگ په کتاب چی ښاعلی رحمت اریا، په پښتو ژباړلی یوه کوچنی کره کتنه.

دا چی میر اکبر خیبر څوک و، څه یی وکړل، چا وواژه یی په هغی کار نلرم، فقط دومره غواړم واضح کړم هغه دا چه. !

یو تعداد خود غرضه هیوادونه او د هغوی استخباراتی پټی کړی د یوه بهرنی هیواد په سیاسی ناکراریو کی څومره لاس لری. دا خود غرضه هیوادونه او د دوی استخباراتی کړی څنګه یو بیچاره هیواد د بدبختیو خوا ته سوق کوی. دا چی د افغانستان د نوی جمهوری نظام په مورد کی روسانو څه نظر درلود، کا جی بی او جی ار یو، څه لوبی کولی هاغه به وخت ثابته کړی. زما موخه پدی لیکنه کی داده چی وګورو خارجی هیوادونه او د دوی استخبارتی کړی په څه ډول خپل هیوادونه ته نادرست او غلط راپورنه او معلومات ورکوی.

که ګران لوستونکی په پوره غور او حوصلی دا لاندی راپورنو ته توجو وکړی په زغرده ور معلومیږی چی امریکا او شوروی اتحاد ، د استخباراتی حلقو سیاسی کارمندان زمونږ د هیواد په ناارامه کولو کی څومره منفی نقش بازی کړی او کوی یی.

زما وړاندیز خپلو وطنوالو ته دادی چی کله یو کتاب او یا کوم ریسرج لولي، لومړی د هر څه د مخه دا لاندی ټکی په نظر کی و نیسي، هاغه دا چی .

لومړی. – هاغه څوک چی په یوه سیاسی موضوع کی ریسرج پلټنه او یا تحقیق کوی اول د هاغه شخص په مورد کی لوستونکی باید پوره معلومات ولری، پدی معنی چی لیکوال یا محقق څوک دی ، دا محقق څومره ناپیلی دی. محقق څه موخی لری.

دوهم . - د هر خارجی هیواد لیکوال ، چی د بل هیواد په ملی او سیاسی موضوعاتو لیکنه یا بحث کوی باید پر لیکنو او ریسرج یی زیات استناد ونشی ، پدی خاطر (!).

۱- کیدای شی د خارجی هیواد لیکوال د خپل هیواد د استخباراتو سره اړیکه ولری.

۲ - د احتمال نه لری نده چی دا خارجی محقق د یوه چا له خوا استحدام شوی وی، او داسی نور سوالونه.

اصلی خبره دا ده ، د کوم خارجی هیواد لیکوال او محقق چی دبل هیواد د حالاتو په باره کی څه لیکی هاغه خپل ټول لومړني معلومات یا د پخوانیو کتابونو او یا هم د هاغه هیواد چی دی پکښی تحقیق کوی د دوهم یا دریم لاس څخه

تر لاسه کوی ، دا چی دوهم یا دریم لاس ناپیلی دی او که نه ډیره مهمه خبره ده ، که داسی نه وی نو بیا د هر خود غرضه، معلومات تحقیق او ریسرچ بی خونده کیږی. په تحقیق کی لازمه ده چی محقق لومړی تر هر څه د مخه ، معلومات ورکوونکی لوستونکو ته ورو‌پیژنی ، یعنی اصلی منبع څوک او څومره بی طرفه ده ، د طرف او بی طرفی تصدیق یی لومړی باید محقق وکړی . هر کله چی په ریسرچ یا تحقیق کی محقق دی موضوع ته پاملرنه وکړی بیا لوستونکی په ډیر اسانتیا قضاوت کولای شی . برعکس، که چیری په یو تحقیق کی محقق دا چیزونه په نظر کی و نه ساتی معلومه خبره ده چی هاغه تحقیق او یا هاغه ریسرچ خپل ارزش د لاسه ورکوی.

دا چی هیریسن څوک و، ولی افغانستان ته راغلی و ، په افغانستان کی د چا سره په تماس کی و ، خپل معلومات یی د کوم ځایه د چا په مرسته راجمع کړی، دا ټول سوالونه دی چی باید اول ځواب شی.

تر هاغه ځایه چی ماته معلومه ده هیرسن یو ازاد لیکوال نه و، هاغه چی هر څه د افغانستان په مورد کی لیکلی دی د خپل سفارت د کارمندانو او نورو دیپلوماتیکو حلقو نه تر لاسه کړی دی.

همدارنګه لودویک ادمک تر هاغه اندازی چی زه خبر یم کله چی دی افغانستان ته راغی، ده په افغانستان کی د یوی افغانی مشهوری مذهبی کورنی چی د وخت د سلطنتی کورنی سره یی نژدی اړیکی درلوی واده وکړ، دا چی څومره د ده د خسرخیلو کورنی دده په تحقیق او ریسرچ کی سهم اخستی شاید بعضی خلکو ته معلومه وی. پس یو جانبه او یو طرفانه تحقیق پر ځای ددی چی خلک تری سالمه ګټه پورته کړی د ابهام باعث ګرځی حتی کیدای شی چی دارنګه ریسرجونه د هیواد او وګړو په زیان تمام شی.

توجو وکړی د امریکا د سفارت راپورنه چی د امریکا سفیر د خپل هیواد خارجه وزارت او سیاه اداری ته لیکلی او یا مخابره کړی دی.

محرم سند : ۷۰۴۵ 19 D/03019اپریل ۱۹۷۸ + راپور1 سفیر] تیودور ایلیوت [ :متحده ایالات امریکا د میراکبر خیبر د قتل په مورد کی. د امریکا د سفیر زیګ زاګ راپور .!

۱ - مارش ظاهرا د [ حاکمیت ] له مقاماتو څخه اجازه درلوده څکه چي له محافظ قوت پرته بل هېڅ پولیس نـهٔ لـیـدل کـېـدهٔ.

[ دلته د مخافظ قوت څخه مطلب څه شی دی ؟ قاسم باز ]

۲ - خـیـبـر د اپریل د میاشتي په اووهٔ لسمي د شپې په نهو :۰۰ ۰۹ بجو ووژل سو. [ ایا دا واقعیت به وی ؟ قاسم باز ]

۳ - ښايي د جمهوریت رژیم، د دوه دلایلو پر بنسټ د راډیو له څپو څخه د استفادې اجازت ورکړی وي: لومړی دا چي رژیم ځان د قتـل د پـېـښـې له اصل څخه واټن ونیسي او دوهم د اوضاع د کړکیچنوالي مخه ډب کړي. درېـیـمه انګیرنه هم لرو: حکومت خلکو ته د خپل مټ زور ښکاره کړ. [ دلته یک تیر و چند فاخته خبره ده . قاسم باز ]

۴ - یو شمـېـر کتونکي/ ناظرین فکر کوي چې د خیبر وژنه ښايي د ښي اړخو اخوان المسلین کار وي. دوی په تـېـرو شپږو میاشتو کې درې ځلور نور قتـلونه هم تر سره کړي دي. ښايي د افغانستان دولت دې ته لـېـوال وي چې د همدې قتـل دوسیه هم په همدې سازمان پورې منسوبه او سنجاق کړي.[ دلته قتل په اخوان مسلمین سازمان ور وه تپل شو. قاسم باز ]

۲ محرم سند : ۷۰۴۶ 24 D/03142د امریکا د سفارت دوهم محرم راپور: اپریل ۱

۵ - ښايي د اپریل د نولسمي امریکایي ضد لاریونونه قسماً د داؤود د رژیم په استـشارې تر سره سوي وي. [ دلته لاریون یا انتقال د جنازی د داود په رژیم پوری محدود شو. قاسم باز ]

۶ - خـيـبر چي مخکښ تيوريسن او ښايي د خلق د ګوند په مرکزي کميټې کې تر ټولو اصيل/ معتقد ترين کمونيست وو د خپل ګوند د ملګرو له پلوه له منځه تللی دی ځکه چي نوموړي د خلق او پرچم د فرکسيونونو د وحدت له انتقادونو څخه لاس نــهٔ اخيست. [ د خيبر قتل دلته په حزب ديموکراتيک خلق ور وتړل شو. قاسم باز ]

۷ - او يا د ځمکی د ويش ( ترکی ) پر سر د يوې کورنی شخړې له کبله وژل سوی دی. دغه تيوري چي خيبـر د ځمکي د تـرکی دويش د کورنی د تاو تريخوالی په سر د يوهٔ غړي له پلوه وژل شوی ويل شوې. [ دلته د خيبر مرګ د فاميل په اعضاو پوری منحصر شو. قاسم باز ]

۸ - خيبر د داؤود د رژيم له لوري ځکه اعدام سو چي د خلق ګوند ناتوانه کړي او له بل لوري په ښي لاسو مخالفينو باندې ددې بدګومانيو ګراف لا لوړ کړي. [ دلته بيرته د خيبر قتل د داود په رژيم پوری اړه پيدا کړه. قاسم باز ]

۹ - موږ باور لرو چي له دغـهٔ ستر لاريون مخکي د ګوند او د حکومت د امنيتي مقاماتو تر منځ يو ډول توافق سوی وو ترڅو دا لاريون په قانون منده او منظم ډول سره تر سره سي. [ دلته بيا د جنازی انتقال او لاريون داوود خان حکومت ته متوجه شو. قاسم باز ]

۱۰ – ( په افغانستان کی د ايران سفير حسين داوودی ) زموږ يوهٔ کارمند ته وويل: محمد داوود غوښتل چي مونږ او ستاسو ته يو پيام ولـيـږي. [ دلته بيا هم د خيبر قتل په جمهوری دولت پوری سنجاق شو. قاسم باز]

۱۱ - موږ نـهٔ وايو چي دا لاريون د داؤود په دستور يا د هغـهٔ په هڅوني تنظيم سوی وو، خو ښايي داؤود دا احساس کړی وي چي پرېــږده د امريکا متحده ايالات او د ايران سفارت د کيڼ غورځنګ منظم طبيعت په خپله ښـهٔ درک کړي.

اوس به راشو د هريسن خود غرضه استخباراتی ليکنو ته.!

هريسن ليکی. Selig Seidenman Harrison

۱ - محـمد داؤود د سياسي قدرت له نيولو يو کال وروسته په حکومت کي يو شمــېــربدلونونه رامنځته کړل: د ۱۹۷۴ز کال د جولای په مياشت کي ئـي په شوروي کي روزل سوي دوه سوه تنه افسران کورناستي کړل.

۲ - د داؤود په افکارو کي د بدلون څرګنده نښه دا وه چي نوموړي دوه وو موضوعاتو ته لاس واچاوه. د هلمند د اوبو د غيرعادلانه ترون منل او د افغانستان په خاوره کي د پښـتـنو او د بلوڅو بلواګرو نـهٔ منل چي – د ذوالفقار علي بوتو د رژيم پر وړاندې جنګ وکړي - دا دواړه ددې لامل سول چي د ملي پالو عناصرو قهر او خښم راوپاروي.

۳- ما ته اجمل خټک په کابل کي داسي وويل : د ذوالفقار علي بوتو په دستور د بلوڅو او پښتنو زندانيانو خوشي کــېـد لو ته په نغوتي داؤود له خپل نوي تصميم څخه دفاع وکړه او موږ ته ئـي په خطاب کي وويل : » د ضياء د واکمنی تر سيوري لاندې ستاسو حقوق خوندي دي. لاړ سئ تشويش مـهٔ کوئ. « موږ داؤود ته وويل : » يا دا ده چي تاسو نادانه ياست او يافريب کار. موږ له دې ځايه نـهٔ ځو.«

زه قاسم باز ، د امريکا د سفارت په زيګ زاګ راپورونو نه غږيږم ځکه چي هغه راپورونه از هر چمن صمنی است، زما ددی ليکنی هدف د هيرسن په ليکنه يو لنډ شاننه تبصره ده غواړم حقايق خپلو هيوادوالو سره شريک کړم.

اوس نو ماته غوږ شه.

هيرسن ليکی.

۱ - محـمد داؤود د سياسي قدرت له نيولو يو کال وروسته په حکومت کي يو شمــېــربدلونونه رامنځته کړل: د ۱۹۷۴ز کال د جولای په مياشت کي ئـي په شوروي کي روزل سوي دوه سوه تنه افسران کورناستي کړل.

قاسم باز. هاغه دوسوه تنه نظامی افسران چی هريسن تری يادونه کوی ، هغه هاغه افسران وه چی د تقاعد مرحلی ته

رسیدلی وه ، په هغوی کی زیادتره پخوانی جنرالان، ډګروالان او ډګرمننان شامل تقاعد او کورناستی کړل. نه دوه سوه روسیه کی روزل شوی افسران.

۲ ـ د داؤود په افکارو کې د بدلون څرګنده نښه دا وه چې نوموړي دوه وو موضوعاتو ته لاس واچاوه. د هلمند د اوبو د غیرعادلانه تړون منل او د افغانستان په خاوره کې د پښتـنو او د بلوڅو بلواګرو نـهٔ منل چې – د ذوالفقار علي بوتو د رژیم پر وړاندې جنګ وکړي - دا دواړه ددې لامل سول چې د ملي پالو عناصرو قهر او خښم راوپاروي.

قاسم باز. ( الف ) د هلمند د اوبو عادلانه یا غیر عادلانه تړون د شاهی نظام د حکومت کار و، هاغه تړون د افغانستان د شاهی دولت ملی شورا تصویب کړی او د شاه په توشیخ رسیدلی و. دا چه هیریسن هاغه تړون ته غیر عادلانه تړون وایی دا په هریسن پوری مربوط کیږی نه په جمهوری نظام پوری.

( ب ) هریسن په ډیری بی شرمی لیکی ، « چی د داودخان حکومت پښتنو او بلوڅو بلواګران نه منل چی د ذالفقار علی بهتو د رژیم پر وړاندی جنګ وکړی. »

دی ته وایی شاخداره دروغ.

اصلی خبره داده. کله چی ذالفقار علی بوتو د افغانستان په کورنیو چارو کی لاس وهنه او مداخله شروع کړه مرحوم داودخان هاغه پښتانه او بلوڅ چی د ذالفقار علی بوتو د ظلم او بمباریو له لاسه افغانستان ته راغلی وه هغه یی د نظامی تمریناتو لاندی کابل د بالا حصار سره نژدی منطقه کی چی د بینی حصار ولایتی په نامه یادیده د جمهوری ګارد د افسرانو تر روزنی لاندی ونیول دا مبارزین به پاکستان ته تلل هلته به یی خپل اهداف تر سره کول.

۳ ـ ما ته اجمل خټک په کابل کې داسې وویل : د ذوالفقار علي بوتو په دستور د بلوڅو او پښتنو زندانیانو خوشې کـېـد لو ته په نغوتې داؤود له خپل نوي تصمیم څخه دفاع وکړه او موږ ته ئې په خطاب کې وویل : » د ضیاء د واکمنی تر سیوري لاندې ستاسو حقوق خوندي دي. لاړ سئ تشویش مـهٔ کوئ. « موږ داؤود ته وویل : » یا دا ده چې تاسو نادانه یاست او یافریب کار. موږ له دې ځایه نـهٔ ځو.»

قاسم باز. هیڅ سالم شخص دا نشی منلی چی اجمل خټک داودخان ته ویلی وی چی « یا تاسو نادانه یاست او یا فریب کار. موږ له دی ځایه نه ځو.»

بلی داودخان د ثور د میاشتی په اولو ورځو کی کله چی میر اکبر خیبر په قتل ورسید پدی وخت کی خان عبدالغفارخان هم په کابل کی و ، کله چی خان عبدالغفارخان د خیبر فاتحی ته ورغی دی موضوع پر داودخان بد تاثیر وکړو شهید داودخان زما پلار بازمحمدخان منګل ته وویل چی نیشنل عوامی پارتی او خان عبدالغفار خان زمونږ د دښمنانو سره لاس یو کړی « ورشه اجمل خټک ته ووایه چی نوره دی خپل بار اوبستره ټوله کړه هر چیری چی ځی د افغانستان څخه ووځي .» پلار می داودخان ته وویل چی اجمل خټک زما دوست دی هاغه پښتون دی او زه هم پښتون یم زه دا خبره اجمل خټک ته نه شم ویلای تاسی وزیران او جرنیلان لری د هغوی پواسطه دا پیغام هغوی ته ورسوه . مرحوم داودخان هم د جمهوری ګارد د قوماندان صاحب جان خان په ذریعه خپل پیغام اجمل خټک او خان عبدالغفارخان ته ورساوه.

ما ( قاسم باز ) ته ، دا خبره اجمل خټک په خپل کور اکوړه خټک ، کال ۱۹۹۶ کی چی داکتر حلیم ویاند، داکتر سرور همتی هم راسره وه اجمل خټک ماته وکړه. هاغه راته وویل چی داودخان مونږ هم د افغانستان څخه رایستلو.



پدی عکس کی له ښی خوا نه کینی خواته.

۱- داکتر سرور همتی،۲ - داکتر حلیم ویاند، ۳ - قاسم باز، ۴ - اجمل ختک ، ۵- ....

ما څه موده مخکښی په یوه لیکنه کی لیکلی وه چی غواړم د یوی مهمی موضوع څخه چی شاید حساسیتونه راوپاره وی پرده پورته کړم هاغه موضوع همدا د خان عبدالغفار خان او اجمل ختک د افغانستان څخه د ایستلو موضوع وه.

ولی او څنګه داودخان دی کار ته اړ شو.

که د حقیقت څخه سترګی پټی نکړو او ریالستیک د پښتونستان قضیه بررسی کړو دی حقیقت ته رسیږو هغه دا چی. !

د داودخان د جمهوریت په دوران کی د ډیورند لاین هاغه خوا تقریباً دولس میلیونو پښتنو ژوند کاوه، اما د بده بخته پدی دولس میلیونو پښتنو کی یو میلیون هم حاظر نه وه چی یا د افغانستان سره یو ځای شی او یا مستقل حکومت ولری.

کله چی د عوامی نیشنل پارتی څنو مهمو غړو لکه اجمل ختک ، میرغوث بخش بزنجو ، افراسیاب ختک ، امجد یا صوفی جمعه خان د اجمل ختک سکرتر چی اصلاً د ای ایس ای ایجنت و، ولی خان او محمودخان اڅکزی د خپلی موخی یعنی ملی مفکوری څخه سرغړونه وکړه دوی د روسانو د کمونیستی اهدافو ښکارشول دی ، موضوع پر داودخان بد اثر وغوځاوه . د ( ګل په درمسال کی ) د کتاب لیکوال امجد مشهور په جمعه خان صوفی کله چی د داکتر نجیب په وخت کی د اجمل ختک څخه وروسته پاکستان ته لاړ هاغه په خپل پورتنی کتاب کی په ډاګه وویل او و لیکل ، چی زه د ای ایس ای ایجنت وم . ما د سردار داود په وخت کی هاغه پښتانه او بلوچ مبارزین چی د کابل د هاغه وخت حکومت د پاکستان پر ضد تربیه کول او هغوی د بعضی تخریبی عملیاتو لپاره به پاکستان ته تلل ما د هغوی راپور د کابل څخه ای ایس ای ته ورکاوه.


امجد یا صوفی جمعه خان چی د اجمل ختک په ذریعه د داکتر نجیب الله ، سلیمان لایق او میر اکبر خیبر سره نژدی اړیکی پیدا کړی وی، دی د داکتر سید خلیل الله هاشمیان د ایینی افغانستان د مسول مدیر د ورور ښاغلی حیدر مسعود چی د داکتر نجیب الله په وخت کی د حزب دیموکراتیک د مرکزی کمیتی د سیاسی بیرو او په ضمن کی د مرکزی

کمیټی د تبلیغ او ترویج د کمټی ریس او مسول و په دفتر کی رسمی دنده درلوده . صوفی جمعه خان یا امجد د سلیمان لایق د لور سره په کابل کی واده کړی و.

مرحوم داودخان زما پلار ته ویلی و چی « د خان عبدالغفار خان او د ده کورنی څخه نور څه نه جوړیږی مونږ باید په پښتونستان کی د یو ځوان لیدر شیپ د پیدا کولو په فکر کی شو.»

ادامه لری نوربیا.

عکس ذیل ، در یکی از مراکز اموزش تمرینات نظامی مبارزین پښتون و بلوچ در بینی حصار ولایتی کابل ، که از طرف افسران نظامی گارد جمهوری داودخان اموزش جنگ های چریکی داده می شد گرفته شده.



از طرف چپ امجد، جنرال یحی نوروز، جنرال روکی، تورلالی، جنرال عزیز، اجمل، حیدر رسولی، میراکرم، جنرال... میرهزار، جنرال ... مراد بزنجو

۲۰۲۳/۸/۱۲